مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۲/۱۲

# د پوهاند دوکتور بهاالدین مجروح تشه

## د مجروح دوه دیرشم تلین

**مجروح سره د انسان ویر و او په دې ډارېده، چې انسان د بې خبرۍ په خوب ویده پاتې نه شي، که همداسې ویده پاتې شي، توري لښکرې به راشي، پر ښار به مسلطې شي او د انسان تر راویښېدو پورې به ښار کنډواله وي.**

**د مجروح غږ ځا وانوړېد، همداسې وشول، توري لښکرې راغلې، ایګو خان د ښار واکدار شو او ښار په کنډواله بدل شو، مجروح هم د تورو تیارو استازو، د ګور تیارو ته ولېږه او دا دی ویر یې دوه دېرش کلن شو، خو افکار یې تاند او زلمي ګرځي راګرځي او د پوهې نوی لښکر جوړوي.**




پوهاند دوکتور بهاالدین مجروح:
پوهاند، فیلسوف، شاعر، مورخ ، دیپلومات ، لیکوال او سیاستپوه،
زوکړه: ۱۹۲۸ م کال د فبرورۍ پر ۱۲ نېټه، کنړ، افغانستان،
مړینه: د ۱۹۸۸ م کال د فبرورۍ ۱۱ نېټه، پېښور.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بیا د پوهاند ډوکتور بهاالدین مجروح د نه شـــتون خبرې دي او د میډیا په بېلابېلو برخو کې یې د دوه دېرشـــم تلین یادونه کېږي. دا چې چا؟ څنګه؟ چېرې؟ او ولې وواژه؟ د اوس له پاره نه پرې غږېږم.

## «پلار دې سپرو مړ کړ که پلیو؛ زه یې څه کوم، زما له ښې یې ویست»

مجروح یې له موږ واخیســت، که نه تر اوســه به یې څومره آثار لیکلي وای، څومره شــاګردان به یې روزلي وای، څومره نوي تخلیقات به یې کړي وای، څومره نوې خبرې به یې کړې وای او نوي نسل ته به یې څومره لارښوونې کړې وی؛ ځکه یې اوس تشه احساسېږي او د دې تشې ډکول به یا ناشوني وي او یا به ډېر له ربړو ډک وي.

**مجروح سره د انسان ویر و او په دې ډاربده، چې انسان د بې خبرۍ په خوب ویده پاتې نه شي، که همداسې ویده پاتې شي، توري لښکرې به راشي، پر ښار به مسلطې شي او د انسان تر راویښېدو پورې به ښار کنډواله وي.**

**د مجروح غـږ چا وانورېد، همداسې وشول، توري لښکرې راغلې، ایګو خان د ښار واکدار شو او ښار په کنډواله بدل شو، مجروح هم د تورو تیارو استازو، د ګور تیارو ته ولېـږه او دا دی ویر یې دوه دېرش کلن شو، خو افکار یې تاند او زلمي ګرځي راګرځي او د پوهې نوی لښکر جوړوي.**

ما ته دا ویاړ نه دی را په برخه شوی چې مخامخ په ټولګي کې د شاګرد په صفت مجروح ته کینم، خو د خبرو او مجلس ویاړ یې څو ځلې را په برخه شوی و.

د پوهاند دوکتور بهاالدین مجروح تشه به تر اوږدې مودې ډکه نه شي. مجروح په ځانګړې ډول په فلسفه او ادبیاتو کې او په عام ډول د فرهنګ په دایره کې د یو پوهاند، فیلسوف، شـاعر، مورخ، دیپلومات، لیکوال او سـیاسـتپوه په ډول مطرح شـــخص و او په یادو ټولو برخو کې یې آثار او مقالې لیکلې دي او ګڼ لکچرونه یې وړاندې کړي دي. مجروح هغه مفکر او ایجاد ګر استاد او قلموال و چې په ملي، سیمه ایزه او نړیواله کچه د یوه منحصر په فرد سبک او دریځ خاوند و چې د شعر سبک یې اوس «د ښـامار سبک» په نامه یادېـــږي او په نوي نسل کې ګڼ شمېر لارویان لري.

د ځینو آثارو نومونه یې دا دي:

**۱ ـ اژدهاي خودي،**

**۲ ـ ځانځاني ښامار،**

**۳ ـ د جبر او اختیار دیالکتیک،**

**۴ ـ نا اشنا سندرې،**

**۵ ـ سید جمال الدین و برخورد شرق و غرب،**

**۶ ـ بودا چنین ګفت،**

**۷ ـ پیام صوفي بت شکن به بت پرستایي قرن ۲۰،**

**۸ ـ صوفي او نوې دنیا،**

**۹-منازل السایرین یا صد میدان حکیم سنایي.**

د پوهاند ډوکتور مجروح پر آثارو بحث کول د یوې مقالې، یوې رسـالې او لا یوه کتاب له حوصـلې وتلي خبره ده؛ خو دې ته مو پام وي چې: څه چې مجروح په خپلو اثارو کې د ټولنې او خلکو په باب ویلي وو، هغه ډېره ســـلنه رېښتیا ثابت شوي دي. د خلکو د نه زدکړې او نا پوهۍ په وجه پر ټولنه او خلکو باندې ایګویـیـزم حاکم شوی دی، او ایګو خان ټولنه او خلک د تباهۍ کندې ته ورپورې وهلې دي او هر څه یې په کنډواله بدل کړي دي.

کله چې زه د کابل پوهنتون محصــل وم، نو کوم اســتاد یا زموږ د کورنۍ کوم مشـــر د مجروح د «جبر او اختیار دیالکتیک» د لوستلو سپارښتنه راته وکړه، ما ولوست، خو سم وربانديې پوه نه شوم، بیا مې بېرته له هماغه شخص څخه د نه پوهېدو دلیل وپوښت، هغه په ډېره مهربانۍ راته وویل چې:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

هر څوک چې غواړي د مجروح آثار ولولي، نو باید چې د مطالعې قوي بګروند ولري. بیا یې د ځینو مقدماتي او ساده آثارو د لوستلو را ته ووېل.




د مجروح دویم کتاب «ځانځاني ښامار» و چې د لوستلو یې راته ووېل شول، ومې لوستت، بیا هم سم نه وربانديې پوهېدم، خو پرلپسې به مې لوستت او ورسره مې ځینې نور کتابونه د دې له پاره ولوستل، څو ځانځاني ښامار هضم کړم. د مجروح د ځانځاني ښامار د لومړنی چاپ هغه نسخه چې په اغلب ګمان په ۱۳۵۷ کال کې مې یې لوستل پیل کړل، تر اوسه هم راسره ده چې په ۱۳۵۶ ام کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي خپور کړی و.

د ځانځاني ښامار لومړنی چاپ څو سرېزې لري چې یوه یې د استاد عبدالرؤف بېنوا ده. استاد بېنوا د مجروح پر خلاقیت او فلسفي بغاوت باندې لنډې، خو استادانه خبرې کړې دي، یوه برخه یې دلته را اخلم:

«... مقدس بغاوت څکه ورته وایم چې «مجروح» د «ځانځانی» د هغه فاسد، غلط، کاذب او په عین حال کې غضبناک، بیباک، ډاروونکی او پر ځان مین اقتدار پر ضد بغاوت کړی دی چې ځیني ناپوه او خود خواه انسانان یې د وربېښمو د چنجیو په شان، په خپل واک، له خپلو ځانو څخه زېړوي او بیا داسي ځانونه پکښې نغاړي چې بې له خپلو ځانو څخه بل څه نه ویني او له هر یوه څخه د «زه» بُت جوړ شي او ناري وهي:

«زه یم! زه د ستاینې او نمانځنې وړ! راته په ګونډو شئ! او په پټو سترګو زما نمانځنه وکړئ! که نه وي نو نه یاست!»

(مجروح پوهاند ډوکتور، ځانځاني ښامار، د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي خپرونه، ۱۳۵۶ کال، دوهم مخ)

د مجروح تر وژلو وروسته، هر کال د ده تلین د نړی په بېلابېلو برخو کې د فرهنګیانو له لوري د مقالو په لیکولو، د مشاعرو او سیمینارونو په جوړولو سره لمانځل کېږي. د پوهاند ډوکتور مجروح د افکارو او آثارو په باب مې چې څومره لیکنې تر سترګو شوې دي، لوستلي مې دي، چې د ځینو سرلیکونه یې ادا دي:

ـ د ښاغلي اسدالله غضنفر مقاله (پیغامونه پټ پراته په افسانو کې)،

ـ د ښاغلي اسدالله غضنفر مقاله (مفکر مجروح)،

ـ د ښاغلي سید عبدالله کاظم مقاله (انگیزه اصلی شهادت پوهاند سیدبهاءالدین مجروح)،

ـ د ښاغلي: و، عطارد مقاله (یاد بود از بیست هشتمین سال شهادت پوهاند بهاءالدین مجروح)،

ـ د دوکتور لطیف بهاند مقاله (پوهاند مجروح به د ۲۰۱۴ کال د فبروري په دولسمه ۸۵ کلن وای)،

ـ د پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار مقاله (استاد مجروح او د جبر و اختیار ربړه)،

ـ د خوشال خلیل مقاله (استاد مجروح د معاصري غربي فلسفي استازی او وصلوونکی و)،

ـ د عبدالودود بشریار مقاله (د استاد مجروح اثار په نړیوال فلسفي ډیسکورس کې د شامېلېدو حیثیت لري)،
ـ د اجمل ښکلي مقاله (د فکر کتاب)،

ـ **د** عبدالغفور لېوال مقاله (دېرش کاله بې فیلسوفه؛) د استاد مجروح یو یاد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېرلو مخکې په ځیر و لولئ

له ځانځاني ښامار څخه د مجروح هغه اټکل چې په ریښتیا واوښت او د خلکو د نا پوهۍ او غفلت په پایله کې زموږ وطن کنډواله او خلک آواره شول:

**«زه حیران یم**

**ښاریان ولې نه بوګنېږي، نه ویښېږي؟**

**ولې نه اوري د ویښ زړه په غوږونو؟**

**پیغامونه پټ پراته په افسانو کې**

**د دې سمڅې ژور تل کې**

**یو پیغام راپورته کېږي**

**خو د دوی ورته غوږونه کاڼه ښکاري**

**اوریدلې به دوی نه وي؟**

**چې په تېرو زمانو کې یو لوی ښار و**

**د ښاریانو له غفلته**

**یو ښارمار پرې مسلط شو**

**چې خوراک یې انسانان وو**

**د ښایسته ښار نه یې جوړه کنډواله کړه**

**ادمیان یې کړه د ننه په خپل ځان کې**

**ښار د مرګ په خوب ویده شو»**

(مجروح پوهاند دوکتور، ځانځاني ښامار، د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي خپرونه، ۱۳۵۶ کال، ۱۷ ـ ۱۸ مخونه)





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ